# د سولې د روانې پروسې په اړه د علماوو د پام وړ!



دا سمه ده چې په افغانستان کې د جګړې اوسنۍ تګلاره له اسلام سره اړخ نه لګوي او په جګړه کې ښکېلې خواوې افغان مسلمانان دي، نو له همدې امله باید روانه جګړه و درول شي. مګر بنسټیزه پوښتنه دا ده چې آیا د سولې اوسنۍ پروسه په افغانستان کې د جګړې درولو په معنی ده او که په کومه بله معنی!؟ سره له دې چې علما د اسلامي ټولنې هغه برخه ده چې له منبرونو څخه یې انسانانو ته د الهي لارښوونکو انبیاوو میراث (د وحی پیغام) خورېږي او د دوی په اصلاح سره ټولنه اصلاح او د دوی په فساد سره ټولنه فاسدېږي. نو:

علما باید د سولې په اړه له تبلیغ کولو مخکې په افغانستان کې پر روان ترور او وحشت فکر وکړي او له سیاسي پلوه د هغه ربښې او عوامل بشپړ و پېژني. وروسته له هغې د اسلام پر بنسټ دغې جګړې ته اسلامي حللاره استنباط کړي او بیا له ټول ولس څخه د هغې حللارې د تطبیق او ملاتړ غوښتنه وکړي. هغه مهال به مسلمان ولس په ملاتړ د خپل مسلمان علما د روان ترور او وحشت جرړې له بېخه وباسي او جګړه به زموږ په خاورو کې په ټپه ودرېږي او د تروریست او وحشي دښمن خاورو ته به ولېږدول شي.

تاسو ټول د دې شاهدان یاست چې افغانستان او سیمې ته د امریکا له راتګ مخکې ولې دلته ترهګري نه وه!؟ ولې ځانمرګي بریدونه نه کېدل!؟ که څه هم کورنۍ جګړې مو تجربه کړې، مګر د وحشت دغه ډول د امریکا له یرغل او له هغې سره د ستراتیژیک او امنیتي تړون له لاسلیکېدو وروسته تجربه کوو. ولې مو له انګریزانو او شورویانو سره د جګړو پر مهال په جوماتونو کې دا ډول ترهګریز بریدونه نه کېدل!؟ ولې مو هغه مهال ماشومان، خویندې او میندې په سپیو نه داړل کېدې!؟ ولې او ولې او ولې!؟

دا ټولې پوښتنې داسې ځوابونه لري چې د اوسني دښمن د مکر او سیاست په پېژندلو کې راسره ژوره مرسته کولای شي. مګر ولې تر هر چا د مخه علما دغو او دې ته ورته پوښتنو ته سوچه ځواب نه وایي او په اړه یې اسلامي حللاره نه بیانوي!؟ ځکه اوسنی دښمن، د وخت دجال له ځان سره دنیوي جنت او دوزخ دواړه لري. که اسلامي حللاره بیان کړي او خلک ور ته راوبولي، نو خامخا د دجال د دنیوي جنت او د هغه له نعماتو څخه محرومېږي او د هغه له دوزخ سره مخ کېږي.

که د سولې او جګړې قضیه له افغانستان څخه اخوا د اسلامي امت په سطحه مطالعه کړو، باید و پوښتو چې د فلسطین او اسرائیلو کړکېچ چا رامنځته کړ!؟ د ایران او سعودي ترمنځ په یمن، سوریه، عراق او بحرین کې روان ناورین ته چا لمن وهلې!؟ د افغانستان او پاکستان تر منځ د نفاق، کرکې او دښمنۍ

اورونه چا بل کړي!؟ او ... د دغو ټولو ناورینونو او جګړو تر شا د اسلامي امت انحطاط، پر هغوی باندې د خاینو، لاسپوڅو چارواکو او غیر اسلامي ملي نظامونو حاکمیت، د هغوی د ګنو علماوو نه ویښوونکی رول او د امت د ستونزو لپاره د اسلامي حللارو نه پېژندل او د هغو نه پلي کول دي.

افغانستان هم د دغو قضیو په څېر د اسلامي امت یو بل ناورین دی، چې ولس یې د امریکا او ناټو د استعماري ګټو قرباني شوی دی. ځکه امریکا او ناټو دلته زموږ د سوکالۍ لپاره نه دي راغلي، بلکې د خپلو استعماري ګټو لپاره یې افغانستان اشغال کړی دی او له افغانستان څخه په سیمه کې د خپلې جنګي پروژې په توګه کار اخلي. دلته اوسمهال د امریکا لپاره تر سولې جګړه ډېره اړینه ده. نو له همدې امله پر جګړه ییزو فعالیتونو تمرکز کوي، سیاسي او پوځي مشران یې هره ورځ د سختو جګړو وړاندوینې کوي، افغانستان ته نوي تازه دمه پوځیان را استوي، پر طالبانو خپلو بمباریو ته زور ورکوي، ترڅو د پوځي فشار له لارې هغوی د سولې خبرو اترو ته حاضر کړي. امریکا د دغه جګړه ییزې ستراتیژۍ له لارې غواړي په افغانستان او سیمه کې خپل شتون ته مناسبه توجیه ومومي او له بل پلوه د ځینو غیر سیاسي اسلامي ډلو د اعمالو پر مټ د چین او روسیې نفوذ، سیمه ییزې پروژې او هیجموني له ستونزو سره مخ کړي. ترڅو د چینایي او روسي استعمار پرځای د سیمې له شتمنو خاورو څخه امریکایي او غربي استعمار ګټه پورته کړي.

په داسې جګړه ییزو شرایطو کې له علماوو څخه یوازې د وسیلې په توګه کار اخیستل کېږي، ترڅو د امریکا د تروریستي پروژو په توجیه او انتقال کې له هغوی څخه د عامه افکارو د اغواګرو په توګه کار واخلي. ځکه ولې له دومره ډېرو کلونو سختو جګړو وروسته اوس امریکا او د هغې ګوډاګي دولت له طالبانو سره د سولې د خبرو اترو پروسه دومره ګړندۍ او خبر جوړوونکې کړې ده!؟ ولې دغه پروسه د طالبانو ترڅنګ د داعش په شمول، د دوی په وینا له شلو نورو تروریستي ډلو سره هم نه اعلانیږي!؟ دلته باید ستاسو دماغ جرینګ وکړي او ووایي چې امریکا د سولې له اوسنۍ پروسې څخه د جګړې د پای ته رسولو په موخه ګټه نه اخلي، بلکې د حکمتیار د اسلامي حزب په څېر د طالبانو د تسلیمۍ او سېکولر کولو په هڅه کې ده. ترڅو د وخت په تېرېدو سره د افغانستان لپاره امریکایي حللارې ته غاړه کېږدي. نو که هغوی تسلیم او ډیموکرات شول، د افغانستان اساسي قانون یې ومانه او د تېرو ۱۷ کلونو لاسته راوړنې یې وزغملې، نو کولای شي د یوه فعال ملي سیاسي حزب په توګه د افغانستان په سیاسي پروسه کې برخه واخلي، مګر د داعش او شلو نورو «ترهګرو» ډلو جګړه به بیا هم په افغانستان او سیمه کې دوام مومي، ترڅو د اسلام او مسلمانانو پر وړاندې د تروریزم تر نامه لاندې د امریکا او ناټو روانې جګړې ته مشروعیت ورکړي. نو د امریکایي سولې پروسې ته کولای شو د لیبرالې سولې نوم هم وکاروو، چې اصلاً د جګړې د ختمېدو معنی نه لري، بلکې په امت کې د یوې مسلمانې وسله والې ډلې د تسلیمېدو او سېکولر کولو په معنی ده.

مګر که راشو د اسلامي امت اوسنی حالت له ملي کچې لوړ د امت په کچه وڅېړو، مومو چې کفارو اسلامي امت د ملي پولو، ملي ګټو، ملي بیرغونو، ملي افتخاراتو او ... په واسطه یو له بله بېل کړی، آن یو له بل سره یې دښمن کړی، چې شته واقعیت بشپړ د اسلامي عقیدې له غوښتنې سره ټوپیر لري او دا هرڅه یې د اوسنیو لاسپوڅو چارواکو او درباري علماوو په لاس ترسره کړي او په امت کې یې شته انحطاط لا ډېر ژور او بنسټیز کړی دی. دا ځکه چې اسلامي امت اوسمهال د خپلې عقیدې پر بنسټ سیاسي دولت نه لري، ترڅو د امت ټول ولسونه یکې راټول او پر دوی باندې یوازې اسلام تطبیق کړي او د هغوی د مقدساتو، وینو، شتمنیو او خاورو دفاع او ساتنه وکړي. حال دا چې اسلامي امت تر لسو پېړیو زیات د دنیا زبر ځواک و، امریکا به خلافت دولت ته جزیه ورکوله، فرانسې به د هغه عدالت ته پناه وړله او ... ځکه چې اسلامي امت د واحد الله بندګي کوي، د خاتم پیغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم پیروان دي، قرآن د هغوی د ژوند نظام جوړوي او په شپه او ورځ کې پنځه ځله واحدې قبلې ته د عبادت پر مهال مخ کوي، هر کال د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه د عرفات پر غره ستره کلنۍ سیاسي-اسلامي غونډه ترسره کوي. نو دا ډول امت ته واحد سیاسي نظام د هر وخت تر ټولو ستره، مهمه او جدي اړتیا ده. ځکه دغه سپېڅلي او غوره امت ته یوازې په فقهي او اجتهادي مسایلو کې د اختلاف اجازه شته او له عقیدوي، سیاسي او جغرافیوي پلوه هېڅکله یو له بل سره اختلاف او تفرقه نه شي کولای. ځکه دغه اختلاف حرام او د دوی د واک او ځواک د تجزیې او ضعف سبب کېږي.

نو راځئ تر هرڅه دمخه تاسو علما په دې سره یو غږ شئ، چې له ترهګرۍ سره د امریکا او غرب نړیواله جګړه، له اسلامي امت سره جګړه وګڼئ. ځکه بوش په صراحت سره هغه صلیبي وبلله. دا موږ یو چې د هغوی د تبلیغاتو ښکار شوي یو او ګومان کوو چې ترهګري د اسلام او مسلمانانو زېږنده ده. حال

دا چې ترهګري د پانګوالي ایډیولوژۍ د ډیموکراتیکو دولتونو د بهرني سیاست (استعمار) هغه اسلوب دی، چې له امله یې غواړي په اسلامي امت کې د پیاوړیتوب او قدرت عناصر له منځه یوسي او امت تر شته وضعیت لا ډېر په ډول-ډول ناورینونو اخته کړي. ترڅو په راتلونکي کې اصلاً د دې جوګه نه شي چې داسې یو اسلامي دولت رامنځته کړي، چې یو ځل بیا کفار په خپلو خاورو کې کلابند او سیمې یې یو په بل پسې فتحه کړي. هغوی د کمونېزم له ماتې وروسته اسلام او اسلامي امت علناً خپل ستراتیژیک دښمنان اعلان کړل، نو پر تاسو څه شوي چې هغوی هم د قرآن او نبوي سنتو په رڼا کې خپل بنسټیز دښمنان اعلان کړئ، د هغوی له هر ډول فرهنګي، سیاسي، اقتصادي او نظامي پروسو سره پرېکون وکړئ او پر ځای یې د اسلامي شریعت پر حللارو منګولې ولګوئ!؟

هغوی چې مسلمانان لومړۍ په دیني افراطیت او ترهګرۍ تورنوي او بیا تاسو ته پروژې درکوي چې هغه وغندئ، دلته او هلته کنفرانس جوړ کړئ، دا ټول د هغې جګړې بنسټیزه برخه ده، چې له ۲۰۰۱م کال وروسته یې پیل کړې. دا هغوی او د هغوی امنیتي کمپنۍ او استخبارات دي، چې په امت کې ستر ترهګریز فعالیتونه ترسره کوي. زه دا نه ردوم چې کله ناکله به له ځینو غیر سیاسي او ناپوه مسلمانانو او یو شمېر اسلامي ډلو څخه د هغوی د تروریستي وسایلو په توګه کار نه اخیستل کیږي، بلکې دغه ډول اسلامي ډلې او منحط مسلمانان هم د کفارو او یا د هغوی د لاسپوڅو حکومتونو د استخباراتو او درباري علماوو له خوا اغوا کیږي او د خپلو نظامي او سیاسي فعالیتونو له لارې په امت کې د امریکا او غرب د رواني جګړې لپاره د مشروعیت شواهد او ثبوتونه جوړوي. راځئ قرآن پرانېزو او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سنتو په رڼا کې د شرعي اجتهاد له مخې د اسلامي نظام د تاسیس لپاره متې بډ وهو او د کفارو له هر ډول ناروا پروسو سره مقاطعه وکړو او پر وړاندې یې امت هم اسلامي حللارو ته راوبولو، د هغوی د قدرت خاوندان د تفاهم له لارې د کفارو په ناوړه موخو او اسلامي حللارو قانع کړو او په ترڅ کې یې جذري بدلون ته لاره هواره کړو. دا هغه فکري او سیاسي کړنې دي چې په ټولنه کې د بدلون په موخه د رسول الله صلی الله علیه وسلم سیرت، سنت او د قرآن سیاسي نزول یې د تغییر لپاره د یوازنۍ نمونې په توګه وړاندې کوي. له همدې امله امام مالک رحمه الله فرمايلي؛ چې د امت آخر په هغه څه اصلاح کیږي، چې اول یېورباندې اصلاح شوی و.

﴿إِنَّ فِي هَٰذَا لَبَلَاغًا لِّقَوْمٍ عَابِدِينَ﴾ [الأنبياء: ۱۰۶]

له شک پرته په دې کې د عبادت کوونکي قوم لپاره روښانه ابلاغ دی!

**سیف الله مستنیر**

**د حزب التحریر – ولایه افغانستان د مطبوعاتي دفتر رییس**